(٤) صفحه
شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل (١٣٦٠) سال بیستم شمارهٔ (١١) یکشنبه (١٧) حمل ١٣٧٦ هـ ش حمل ١٣٧٦ (٢٧) ذی القعده (١٤١٧) هـ ق (٦) اپریل ١٩٩٧م

مولوی وکیل احمد له الوسط خپرونی سره په مرکه کې :

د وسلو ټولولو وروسته به د شریعت تطبیق ته خوشي شو

که نورلوری همداسی په خپل دریغ ټینګار وکړی، مخصوصا دا چی هغوی زموږ پرمختګونو ته اهمیت نه ورکوی د مذاکراتو څخه به منځه نه ځي

امریکا ته چي څه مهم دی هغه په افغانستان کی سوله او ثبات دی اوموږ سولی لپاره شپه او ورځ په ځان یوه کړی ده

که ایران له موږ سره اختلاف لري نوشاید عوامل ئی اقتصادی وی نه بل څه

پاکستانیان ددی پرځای چی موږ ته عسکر راواستوی، به دا ده چی خپل جنګیالی کشمیر ته ولیږی

د ظاهرشاه په څېر تولو خلکو ته بلنه ورکوو چی راشي او د سولی او بیا ودانولو په لارکی مرسته وکړی

دطالبانو واسلامي غورځنګ دامیر ملامحمد عمر "مجاهد" ترټولو نژدې سلاکار ملا وکیل احمد «متوکل» له «الوسط» عربي خپروني سره يوه مرکه کړې چي پښتو ژباړه يې دلوستونکو مخي ته ږدو. اداره

پ :- اصلي خنډ څه دي چي ستاسي او مخالفینو په خبروکي پرمختګ نه کيږي ؟
ځ :- که نور لوري په خپل دريغ همداسي
پاتی «٢» مخ

ملااحمدجان وزیر معادن وصنایع طالبان :

عده یی ازشرکت های تجارتی امریکا، سعودی وارجنتاین مصروف مذاکره باطالبان اند

کمپنی یونیکال منتظرصلح سرتاسری بوده ،اماشرکت بریداس برتامین امنیت نسبی درمناطق طالبان اکتفا می کنند

کابل - ١٦ حمل :
هیئت های شرکت های تجاري امریکا عربستان سعودي وارجنتاین مصروف مذاکره وګفتګو با طالبان راجع به انتقال پایپ لاین های نفت وګاز ترکمنستان ازطریق افغانستان به پاکستان وسپس بخارج ازاین کشور مي باشند .
مطابق ګزارش خبرګزاري رویتر مولوي احمد جان وزیر معادن وصنایع اداره طالبان دراین رابطه اظهارداشته که طالبان تاهنوز درمورد امضاي موافقت نامه
بقیه صفحه (٤) ستون (٧)

براساس بیانیه رسمی وزارت خارجه قزاقستان :

افغانها وجوامع بین المللی برای اعاده صلح در افغانستان تلاش مجدانه نمایند

قزاقستان خود را متعهد به فیصله های سازمان ملل در مورد افغانستان می داند

الماتا - ١٦ حمل :
قزاقستان با ابراز نګراني عمیق ازتحولات اخیر اوضاع افغانستان ازتمامي ګروههاي افغان وجامعه بین المللي مطالبه کرده که براي پایان یابي جنګ هاي خونین ودوامدار واستقرار صلح وامنیت وحفظ تمامیت ارضي این کشور تلاش مجدانه بخرچ دهند .
بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

عبدالرحیم «غفورزی» د ناپیلو هیوادو په غونډه کی د افغانستان نمایندګی کوی

نوي ډهلي - دحمل ١٦ مه :
دریاني د پخواني حکومت دبهرنیو چارو دوزارت کفیل عبدالرحیم غفورزي په هند کي دناپیلو هیوادونو دبهرنیوچارو وزیرانو په غونډه کي دګډون لپاره هندته روان دي .
دفرانسپرس خبري آژانس په نوي
پاتی (٤) مخ (٧) ستون

د روسیې په ګډون د منځنی آسیا د بهرنیو چارو دوزیرانو غونډه جوړه شوه

دوشنبه - دحمل ١٦ مه :
پرون دمنځني آسیا او روسیې دحکومت دبهرنیوچارو وزیران دمشورتي غونډې په خاطر دوشنبې ښارته ورسیدل . ددې غونډې دتاپیجو په ارتباط چي په
پاتی (٤) مخ (٥) ستون

د ننګرهار پخوانیو قوماندانانو په «خوګیانو» او «لعل پوره» برید پیل کړ

طالبان وایی چی په «خوګیانو» کی یی (٢٦) کسان ژوندی نیولی

د شورا مهم قوماندانان لاتر اوسه د جګړې ډګرته ندی تللی

د جګړې ګرښوته د افرادو د لیږلولو دوام لری

جلال آباد - دحمل ١٦ مه : .
دننګرهار دپخواني والي حاجي عبدالقدیر په مشري ددې ولایت پخواني شورا غړو تریولږ جنډې تیاریو وروسته پرون ددې ولایت د «خوګیانو» او «لعل پورې» په سیمو کي خپل عملیات دطالبانو پرخلاف پیل کړي ، خوداسي ښکاري چي کوم خاص بریالیتوب یې ندي ترلاسه کړي .
په پیښورکي یوې باخبره منبع تیر ماښام شهادت ته وویل : دحاجي قدیر په مشري قوماندانانو پرون خپل عملیات
پاتی (٤) مخ (٧) ستون

الهی لاربنوونی

نو که دوه سړي نه وو نو یو سړي او دوه ښځي له هغونه چي د شاهدانو په حیث وربانديي راضي شوي یاست ترڅو که یوه ددوي دواړو یې هیره کړي نو بله یوه ددوي دواړو یې رایاده کړي . او چي کله هم شاهدات وبللي شي دوه دي نه کوي او زړه ناژړه کيږي مه له دي چي وبي لیکي کم وي او که زیات وي ترخپلي نیټي پوري دا دالله په نزد کي ښه دانصاف خبره ده او تر ټولو سم (کار) دي دشهادت لپاره او تر ټولو نږدې دي . دي ته چي شك ونکړي . مګر دا چي داسي حاضر (مخامخ او لاس په لاس) تجارت وي چي خپلو منځونو کي یې اړوي راړوي - نو که یې ونه لیکي په تاسو کومه ګناه نشته او چي کله مو خرڅلاو کولو شاهدان ونیسي او باید کاتب او شاهد متضرر نکړي شي.

نقل وانتقالات نظامی درخطوط مقدم جنګ ازدرګیری شدیدی پیش ګویی می کند

طالبان ادعا دارند که دوهزار تن افراد تازه نفس رابه جبهه مشرقی فرستاده اند

پشاور - ١٦ حمل :
منابع افغان نقل و انتقالات نظامي واستحکام مواضع طرفین درګیر جنګ درافغانستان را نشانه احتمال تشدید جنګ درآینده نزدیك درجبهه هاي مختلف ارزیابي میکنند .
قرارګزارشهاي ګروه طالبان وشوراي عالي دفاع طي روزهاي اخیر باعزام نیروهاي تازه نفس به خطوط مقدم جنګ ، خود را براي آغاز عملیات آماده میکنند .
یك ګروه طالبان درپشاور ګفته است که دوهزار طالب تازه نفس رابراي تقویت
بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

دفاع شورې دمنابعو په ادعا :

په سالنګ کې دطالبانو بريد په شا شو

پر «قلعه نو» دبمباری له امله (٢٠) طالبان وژل شوی

پروان - دوري ١٦ مه :
ددفاع شورا منابعو ادعاکړي چي ددوي ځواکونو دجبل السراج ولسوالي دسالنګ په سیمه کي دطالبانو یو تعرضي برید په شاتمبولي .
دپروان ولایت څخه دارسیدلي رپوټ په اساس دتیري جمعي په ورځ ددفاع شورا ځواکونو دجنوبي سالنګ د «ده نو» په سیمه دطالبانو پریوه مهمه پوسته باندي بریلوکړ چي په نتیجه کي لوموړي پوسته په بشپړه توګه ویجاړه اوپه پوسته کي میشته کسان ټول ووژل شول .
په رپوټ کي ویل شوي چي ددفاع
پاتی (٤) مخ (٦) ستون

نوازشریف صدراعظم پاکستان درګفتګو باخبرنګاران:

مهاجرین افغان برادران ماانـد، که باقحطی وګرسنګی مواجه می باشند

مابامهاجرین ازهیچګونه مساعدت دریغ نخواهیم ورزید

بحران ګندم عنقریب خاتمه می یابد

پشاور - ١٦ حمل :
قلت مواد خوراکه بخصوص ګندم درپاکستان عنقریب منتفي خواهد شد وپاکستان علاوه بر بر آورده ساختن مایحتاج روزمره مردم ، این مواد را دوباره به افغانستان وکشورهاي همسایه صادرخواهد کرد .
میامحمد نوازشریف صدراعظم پاکستان طي ګفتګو باخبرنګاران راجع به مشکلات روز افزون مردم ازناحیه قلت مواد خوراکي اظهارداشت که این بحران
بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

د ملګروملتوسازمان د خوراکی موادو د اداری په قول :

کابل ته (١٦) لاری غنم چی (٢٥٠) ټنه دی ولیږل شول

کابل - دحمل ١٦ مه :
په اسلام آباد کي دملګروملتو دخوراکي موادو داداري درپوټ په قول کابل ته دخوراکي موادو شپاړس لاري لیږل شوي چي په هغو کي غنم او اوړه باردي اوټول ٢٥٠ ټنه دي . دلاریو داکاروان دکابل دخلکو دخوراکي موادو داړتیاوو دپوره کولو لپاره نن دشنبې په ورځ کابل ته روان شویدي .
پاتی (٤) مخ (٦) ستون

یک کاروان امدادی ایران به شمال افغانستان مواصلت کرد

قراراست این کمك بین مردم بامیان - بلخ - جوزجان - سمنګان، بغلان ،کندز ، کاپیسا وسرپل تقسیم ګردد.

تهران - ١٦ حمل :
سومین کاروان کمك هاي بشردوستانه ایران روز جمعه وارد شمال افغانستان شد
قرارګزارش رادیو ایران این کمك ها که متشکل از (١٧٥٠) تن مواد غذایي شامل آرد، روغن ، برنج ودیګر نیازمندي هاي اولیه غذائي است توسط
پاتی (٤) مخ (٦) ستون

براساس ګزارش اداره کنترول مواد مخدرامریکا:

امریکا از تولید وقاچاق مواد مخدر ازافغانستان به اروپا وامریکائی شمالی عمیقاً نګران است

واشنګتن - ١٦ حمل :
امریکا از پاکستان خواسته است بر نامه وسیع وفراګیرپنج ساله را جهت جلوګیري ازتولید وقاچاق مواد مخدر درکشورش اعمال نماید .
اداره کنترول مواد مخدر امریکا طي انتشار بیانیه اي راجع به تولید وتجارت مواد مخدر درکشورهاي آسیایي ګفته است که پاکستان باید قانون جدیدي را براي نابودي کامل مواد نشه یي نافذ ګرداند .
بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

دطالبانو دوومشرانو په جلاجلاډول له محترم مولوی خالص سره وکتل

کابل - دوري ١٦ مه :
دطالبانو دسرپرستي شورا مرستیال ملامحمد حسن تیره ورځ د اسلامي حزب
پاتی (٤) مخ (٧) ستون

دامیرالمومنین دټاکنی دلومړی کلیزی په مناسبت:

دمولوی "محمدی" له خوا ملامحمدعمر «مجاهد» ته دمبارکی پیغام ولیږل شوی

کابل - دوري ١٦ مه :
دطالبانو له خوا د امیرالمومنین په توګه دملامحمد عمر «مجاهد» دټاکنې دلومړي کلیزي له امله دمحترم مولوي محمد نبي « محمدي » لخوا دهغه په نامه دمبارکي پیغام لیږل شوي دي .
دشریعت غږ راډیو درپوټ په اساس په دغه پیغام کي په دي ترڅ کي تومورې ته دامیرالمومنین دټاکني دلومړي کلیزي له امله ئې دافغانستان خلکو او دټولي نړي مسلمانانوته ئې دخدمت په لاره کې د هغه دلاسته راوړنو بریالیتوبونو هیله کړې ده .
محترم مولوي محمدي په پیغام کي دافغانستان له خلکونه غوښتي چي
پاتی (٤) مخ (٥) ستون

نطاق کمیساری عالی سازمان درامورپناهندګان درګفتګوباصدای امریکا:

جامعه بین المللی ازناحیه مهاجران داخل افغانستان عمیقاً نګران است

روزانه (٨٠٠) نفر به شهرکابل پناهنده می شوند

وضعیت مهاجران درهرات نګران کننده می باشد

واشنګتن - ١٦ حمل :
کوچ کشي ونقل و انتقالات مردم ولایات پروان وکاپیسا افزایش یافته واین عملیه موجب نګراني عمیق کمشنري عالي سازمان ملل متحد درامور پناهندګان افغان شده است .
هدایت عبدالنبي نطاق کمشنري عالي سازمان ملل متحد درامور مهاجرین درژنیو درګفتګو باراډیو صداي امریکا باابراز نګراني ازناحیه مشکلات روز افزون مهاجران افغان، اظهارداشت که روزانه بیش از (٨٠٠) نفر ازاهالي ولایات پروان کاپیسا به شهرکابل پناهنده مي شوند .
بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

د پولیو پرضد د ماشومانو د واکسین پروسه به نن په ټول افغانستان کی پیل کیږی

کابل - دحمل ١٦مه :
ټاکل شوي چي « نن » به په ټول افغانستان کي دپولیو « فلج » په
پاتي «٤» مخ «٤» ستون

شدید باران هم زمونږ د بی وزله مهاجرو بی وزله هیوادوالی د ګدایی لاس ته پتوی

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگر عقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس: انجنیر حکمتیار
ناشر: ریاست ارشاد وفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: (۲٦٢٤٨٧)
آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون - پشاور

مسعود او بیازره سندره!

په دې ورځو کې دنظار شورې رئیس انجنیر احمد شاه «مسعود» له ځینو غربي مطبوعاتو سره په مرکوکې بیا زړه سندره شروع کړې ده اووائي چې «هم «حکمتیار» اوهم طالبان ټول بنیادګرایان دي، «حکمتیار» هم «افراطي» عربانوته پناه ورکړې وه اواوس ئې طالبان هم ورکوي، دواړه دیني تعصب لري، په تشدد معتقد دي او دغرب او دیموکراسۍ جدي مخالفین دي. حکمتیار چې کله کابل ته راغی، دهغویدلونونو شروع کول ئې وغوښتل چې طالبان ئې غواړي. خو موږ پرینښود اودده سیاستونه او اقدامونه مو دټولو شخصي نظر او پریکړې اعلان کړې نه ددولت اوحکومت دریځونه اوفیصلې»

مسعود غربي مطبوعاتوته وائي چې دي په افغانستان کې دغرب پلوي اودلیبرالیزم او دیموکراسۍ طرفدار دي، اوپه همدې وجه ده چې هیڅ وخت «بنیادګرایانو» په ارام نه دي پرېښی او په همدې سبب دي چې دي نن ترټولوپه کلکه دپخواني باچا دنقش غوښتنه کوي متأسفانه مسعود په داسې خامو روشنو او لنډوفکرونو سره ډېرې ناوړه غلطۍ وکړې. هم یې دجهاد په اوږدوکې او هم ترجهاد وروسته. اخیر داکوم انصاف اوکومه ځوانمردي ده چې یوڅوک دې ټول وخت په دې کې تیر کړي چې ځرنګه وکړای شي ځان دمسکو دګټو مدافع ثابت کړي اوڅه وروښودلای شي چې د غرب دمنافعو ساتندوی دی. آیا مسعود نشوای کولای اونشي کولای چې دمسکو اوغرب په ځای خپل ولس ته توجه وکړي؟ هغه ته خپل پروګرام توضیح کړي، خپله خبره ورته وکړي، دخدمت اراده ورته څرګنده کړي، بحران ئې خپل بحران وبولي، په دې باوروکړي چې دپردیو دقضاوت په نسبت داورته غوره نه، اصلاً بنیادي پرنسیپ دي چې دخپل ملت په قضاوت پورې خپل سرنوشت اومستقبل وتړي.

دجهاد په وخت کې مسعود دخارجیانو لپاره خپل افادیت داښود چې دده نظارشورې د«بنیاد ګرا» حکمتیار په مقابل کې یو دیوال دي بیاني دا کار نامه دهغوي مخې ته بنودله چې که دي نه واي په کابل به دحزب اسلامي حکومت و اودکابل دتباهۍ جګړه ئې ورته د «بنیادګرا» حزب اسلامي په وړاندې ددریلو «مقدس جنګ» باله.

دې ټولو شیانو مسعودته هیڅ اساسي ګټه ونه کړه، بې له دې چې دناروا جګړو سبب شي، بې له دې چې دناوړه تعصبونو دراپارولو عامل شي او بې له دې چې دیوه عظیم الشان جهاد په سبوتاژ کې دیوې وسیلې په توګه استعمال شي نورڅه په لاس ورغلل؟ موږ نه پوهیږو چې مسعود دخپلې زړې سندرې له بیازمزمه کولو دڅه شي دترلاسه کیدو توقع لري. نه پوهیږو چې هغه ولې پرېکړه نشي کولای چې دداسې موبېل شویو اوناساليمو روشونو په ځای دولس دنجات دلاروغوره کولو ته ترجیح ورکړي.

لمونځ

حکمتیار

داسلامي حکومت لومړی دنده

په اسلامی نظام کی د واکدارانو لومړنی او تر ټولو ستره وظیفه دلمونځ قائمول دی.

قرآن پدی هکله فرمایی:

الذین ان مکنهم فی الارض اقامواالصلوة واتوا الزکوة وامروا بالمعروف ونهوا عن المنکر ولله عاقبة الامور ○

هغه چې په ځمکی کی تمکین ورکړو، لمونځ قائموی، زکات ورکوی، په معروف ګمارل او له منکرته مخنیوی او دچارو پای الله لره دی.

ددی ایت نه په ډېر وضاحت سره معلومیږی چې د یوې دنوره اسلامی ټولنې په جوړولو کښی تر ټولو زیات اغیزمن کار، دلمانځه قائمول دی که اسلامی حکومت پدی وتوانیدو چې جوماتونه له معنوی لحاظه آباد کړی. دجومات امامت صالح، متقی او په دین پوه داعی ته وسپاری، خلك له جومات سره عادت کړی او جومات چې دخلکو په فکری، معنوی، اجتماعی او سیاسی روزنې کی کوم اغیزمن کارکولی شی هغه ترسره شی، کولی شی دټولنې ټولی ناخوالی سمی اوټول مشکلات حل کړی، چی هره ورځ دیوه محل خلك پنځه ځله راغونډیږی په هره هفته کی دیوی منطقی خلك یوځل اجتماع کوی، په کال کی دوه ځله دیوی لویی ساحی اوسیدونکی په یوی ستری غونډی کی دځتر په شان دور خاصو ورځوکی غونډه کوی اوپدی اجتماعاتو کی ټول په منظمولیکوکی دیوه بل څنګ ته، یوی قبلی ته مخه دواحد رب په وړاندی ودریږی په یوه امام پسی اقتدا کوی، دهغه په قوماندهٔ لاسونه الله جل جلاله ته دتسلیمی په نامه پورته کوی، لاس تړلی ودریږی، رکوع اوسجده کوی، په خپلو حرکاتو کی له امام نه مخکی وروسته کیدل ګناه ګڼی، په خپلو منځونوکی معمولی فاصله، او ډېره کمه اندازه له یوه بل نه وروسته مخکی ودریدل غلطی شمیری او له هغه نه ډډه کوی او دا ظاهری منظم حرکات له ژورفکری او معنوی احساس اوپیوالی سره توأم تر سره کیږی، دجمعی په هره اجتماع اودواختر په غونډو کی امام مکلف دی جامع، لارښوونکی وینا وکړی اومقتدی مکلف دی په ډېر غور اودقت سره هغه واوری، ددولت رئیس مکلف دی په مرکز کی په خپله ددغو اجتماعاتو ریاست وکړی او شخصاً دلمانځه امامت وکړی او په لری ځایونوکی دده کفیل داکار ترسره کړی پدی سره چې دخلکو ترمنځ دیووالی، دمشرانو او کشرانو ترمنځ دبعد اوفاصلی ختمولو، دیوه بل له حالت نه د خبریدو، دمحل، منطقی، ساحی او هیواد او نړی په وضعیت دپوهیدو، او سترو سترو اجتماعی کارونوته دولس دچمتوکولو کوم کارکیدی شی له بلی هیڅ لاری ممکن ندی.

تاسوچی دنړی دډیرو منظمو، ځواکمنو، سیاسی او انقلابی احزابو، تنظیمی او تربیتی پروګرامونه او دحزبی جلسو ځرنګوالی لدغه څه سره چی اسلام وضع کړی مقایسه کړی هلته دلمانځه اوجماعت په اهمیت پوهیدی شی.

داد جماعت لمونځونه په حقیقت کی دحزب الله ورځنی، او نیزي او کلنی حزبی جلسی دی.

دناصالح خلف نښه

قرآن عظیم الشان دناصالح خلف او دهغه نا اهله ټولګی چی ندی توانیدلی دخپل پښمن او سرلوړی سلف، دعظمتونو اوجلال ساتنه وکړی یوه لویه

اواساسی نښه دلمانځه ضایع کول ګڼي او فرمایی:

فخلف من بعدهم خلف اضاعوا الصلوة واتبعوا الشهوات فسوف یلقون غیا ○

(مریم - ۵۹)

بیاله دوی نه وروسته هغه خلف (وروستنی) ورپسی شول چی لمونځ ئی ضایع کړ او دنفس دغوښتنو متابعت یې وکړنوخودبه له ورکاوی سره مخامخ کیږی.

یعنی چاچی لمونځ ضایع کړ اودنفس بنده شو - دیوه باعزته اوباعظمته قوم، دشرف اودسرلوړی دلرغونی میراث ساتنه نشی کولی، ډېر ژر به په میراث ترلاسه کړی عزت بایلی اوله سپکاوی اوورکاوی سره به مخامخ کیږی.

لمونځ د کچه خویونو مانع

عظیم الشان قرآن، دلمانځه ددی خصوصیت په هکله داسی څرګندونه کوی:

ان الانسان خلق هلوعا ○ اذا مسه الشر جزوعا ○ واذامسه الخیرمنوعا ○ الاالمصلین ○ الذین هم علی صلاتهم دائمون ○ والذین فی اموالهم حق معلوم ○ للسائل والمحروم ○ والذین یصدقون

پاتې (٤) مخ (٦) ستون

ترجمه قرآن عظیم الشان

مترجم: حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحیم

الروم

الم ○ مغلوب شدند رومیان ○ درنزدیك ترین سرزمینی، و حتماً غالب شونده اند بعداز شکست شان ○ درچند سالي، خدا راست کار، چه پیشتر وچه بعدتر، و در چنین روزي، شادمان شوند مومنان ○ به نصرت خدا، یاري دهد هرکي را خواهد، واوست شاندار مهربان ○ وعده خدا تخلف نکند ازوعده اش، ولي بیشترین مردمان اند نادان ○ ظاهر زندګاني دنیا را میدانند، آنان ازآخرت اند بیخبران ○ آیا تفکر نکرده اند با خود شان، که خدا نیافریده است آسمانها وزمین را وآنچه میان آنهاست، مګر مبتني به حق واجل معین، ویقیناً اکثرمردم، کافراند، به ملاقات پروردګارشان ○ آیا درزمین سیرنکرده اند، تانګرند که چګونه بود انجام آنانیکه قبل ازایشان بودند، که قویتر ازایشان بودند وزیرورو کردند زمین را وآبادش کردند بیش ازآباد کردن آنان، وپیامبران شان به آنان نمایانده ها آوردند پس خدا برآنان ستم کننده نبود بلکه خود بودند ستمګران ○ سپس عاقبت کسانیکه بدي کردند بد بود چون آیات خدا راتکذیب کردند وبودند به آن استهزا کنان ○ خدا آفرینش را مي آغازد سپس اعاده اش مي کند سپس بسوي اوبرګردانیده شوید همه تان ○ وروزیکه قیامت برپا شود نا امید شوند ګنهکاران ○ وبراي شان ازشرکا، شان شفاعت کنند ګاني نبوده وهمه ازشرکاء خود باشند انکارکنان ○ وروزیکه قیامت برپاشود، درچنین روزي، متفرق شوند همه مردمان ○ پس اما آنانکه ایمان آوردند وشایسته ها کردند، درباغچه باشند شوند شادماني کنان واما آنانکه کافر شدند وآیات ماوملاقات آخرت را تکذیب کردند، اینها درعذاب باشند حاضر کرد ګان ○ پس پاکیست خداراشام ګاهان تان وصبح ګاهان تان ○ واوراست همه ستایش ها درآسمانها وزمین وهرپګاهي وچاشت ګاهان تان ○ زنده را ازمرده بیرون مي آرد ومرده را از زنده بیرون مي آرد وزمین را بعد از مرګش زنده مي کند همچنین بیرون آورده شوید همه تان ○ وازآیات اوست که شما را ازخاك خلق کرد، سپس ناګه بشري باشید پراګنده شوندګان ○ وازآیات اوست که براي تان از خود تان جوره هاي راخلق کرد تا درکنار شان آرامش یابید و میان تان دوستي اي ومهرباني بي بارآورد یقیناً درین هانشانه هائیست براي تفکر کننده ګان ○ وازآیات اوست آفرینش آسمانها و زمین وګوناګوني لسانهاي تان ورنګهاي تان، بدرستي دراینها نشانه هائیست براي عالمان ○ واز آیات اوست خوابیدن تان درشب و روز وجستجوي تان، فضلش را، حقا که درین هانشانه هائیست براي شنوندګان ○ و از آیات اوست که برق رابه شما مي نمایاند چون ترسي وچون طمعي و ازآسمان آبي نازل مي کند وبا آن زمین را پس ازمرګش زنده مي کند، یقیناً درین هانشانه هائیست براي تعقل کننده ګان ○ وازآیات اوست که آسمان وزمین بحکم اواستواراند سپس چون شماراباددعوتي اززمین بخواند، ناګه باشید بیرون آینده‌ګان ○ براي اوست هرچه درآسمانها وزمین است همه برایش فرمانبرداران ○ واوست همانکه آفرینش رامي آغازد، سپس اعاده اش مي کند وچنین کاري آسانتر است بروي، واو راست بلند ترین شاني، در آسمان ها وزمین واوست شاندار حکیم ○ مثالي ازخودتان رابراي تان بیان کرد، آیا در رزقي که به شما داده ایم شرکاي دارید از غلامان تان ○ به نحوي که شما درآن برابر بوده ازآنان چون ترس تان ازهمدیګر تان بترسید، اینګونه نشانه هارا به تفصیل بیان مي کنیم براي تعقل کنندګان ○ ولي ستمګران ازهوس هاي شان، بدون علمي پیروي کردند، پس چه کسي هدایت کند کسیرا که خدا ګمراه کند ونیست براي شان کسي از یاري دهندګان ○

ادامه دارد

دوسلو تر ټولو وروسته به د شریعت تطبیق ته خوشي شو

زموږ نظریاتو اوسیاست ته په بده سترګه ګوري. ایران د طالبانو په اهمیت پوه اوزور یې ورته معلوم شوی دی.

پ: - آیا له دوي سره داختلاف ... مذهبي فکرکوي؟ ځکه تاسو داسلامي قوانینو دتطبیق په باب ډیرشدت کوي؟

ځ: - که څه اختلاف وي شاید هغه داقتصادي پالیسیو په وجه وي نه دشریعت دتطبیق اویا نور څه په هکله.

پ: له احمدشاه مسعود او دربانی له حکومت سره تفاهم ته درسیدوځومره چانس وینئ او پدې اړه ستاسو شروط څه دي؟

ځ: - زموږ په هیواد کې ډیر سیاسي ګوندونه دي، خونظامي قوتونه پیژندل شوي اومعلوم دي، موږ له دې وسلوالو ډلو څخه وغوښتل چې وسلې راته وسپاري، ځکه موږ سوله او آمن غواړو او موږ پخپل وار خبروته تیاریو. دسولي اواستقرار خبرې ترهغه هیڅ مانا نلري چې دمختلفو قوتونو په لاس کې وسله وي ډېر داسې هیوادونه دي چې هلته مختلف سیاسي احزاب له مختلفونظریاتو سره ژوند کوي خو پلویان یې وسلوال نه وي.

پ: آیا ددي دا مانا ده چې تاسوله نورو سره دقدرت دشریکولو لپاره تیارياست اویااورسره ائتلاف وکړئ؟

ځ: دولتي مؤسسات او وسایل داهل خبره اوفني کدرونو په خدمت کې دي. دافغانستان بیا ودانول او جوړول لوي باردي، ددي بیټي دپوره کولو لپاره باید یو بل ته لاسونه ورکړو چې د افغان ولس دموږو ... مشکلاتو دلري کولواساس کیږدو. دطالبانو دحرکت غړي او مشران مختلف پلانونه لري خو ټول خپل هیواد په هکله یونظر لري.

پ: دکابل له نیولو وروسته دشرعي قوانینو دتطبیق اعلان په بین المللي سطح یوه غوغا جوړه کړه خصوصاً داچې کله مو ښځې له کارونو او ښوونځیو څخه منعه کړې ایا ستاسې دا اجراآت به مؤقت وي که دایمي؟ او ددي لپاره څه دلائل لري؟

ځ: کابل چې دکمونستانو په لاس کې و او اوسیدونکي یې دا ډول ژوند کولو ته مجبور شوي وو زموږ دملت دژوند کولو طریقه سوچه اسلامي ده دطالبانو حرکت دزده کړو او روښنفکرانو حرکت دي او ... یې خلك پوهې اوعلم ته تشویقوي موږ په هیڅ صورت کې د تعلیم پرخلاف نه یو.

پ: نو بیا مو ښځې ولې له زده کړې او کار څخه منع کړې؟

ځ: داسمه ده چې تعلیم دمسلمانې ښځې اومسلمان سړي دواړو حق دی، خومشخصیت حرکت موږ ته دامهمه ده چې ښځې باید داسلامي لباس پابندي وکړي، تعلیم دافغاني میرمنې مسلم حق دی خو موږ چې ... لیکو میرمنو ته هیله لرو هغه داده چې باید داسلام اوشریعت هدایات په نظر کې ولري اوپوره مراعات یې وکړي.

پ: آیا ددي دامانا ده چې که ښځې خپل لباس شرعي کړي نو بیا دکار کولو اجازه ورکوئ؟

ځ: په ځینو حکومتي ادارو او روغتونونو کې ښځو ته ضرورت دی. موږ په هوایي ډګرونو کې ښځینه کارکونکونه ضرورت لرو. ... حق ... ښځینه مسافرینو ... په ... د ... ډول تاریخه اوښځینه داکترانو او نرسانو ته ضرورت لرو.

پ: تاسو په یوه مرحله کې له جنرال دوستم سره تفاهم درلود اوس ولې دانشته اوسبب یې څه دي؟

ځ: له بده مرغه، موږ څوځو ځله هغه ته هیئتونه واستول، خوداسې ښکاري چې هغه دتورو دقشار ښکار شو اوله هغوي سره په همغږي لاورولاړ.

پ: آیا دوستم دومره ځواك لري چې تاسوحساب پرې وکړئ؟

ځ: کیدې شي هغه سه نظامي قوت ولري خو دا ممکنه نده چې هیواد دې د څرښتامي ځواکونوله خوا اداره یې باید یوه مرجع وجود ولري چې دخداي او خپل ملت په وړاندې دټولو کړو ځواب‌ده وي. دده پیشرفته یا غیرپیشرفته وسلې او ځواك زموږ دلارې خنډ نشي جوړیدای.

پ: انجنیر مسعود په تاسو تور لګوي چې له پاکستان نه مرستې ترلاسه کوئ اووایي چې ده پاکستاني عسکر نیولي چې ستاسوپه لیکو کې جنګیدل پدې هکله څه وایاست؟

او له پاکستان سره ستاسو داړیکو څرنګوالي څه ډول دي؟

ځ: تاریخ ددې شاهد دي چې افغانان د بل چا مزدوران اوغلامان نه وه دمسعود دتنظیم په شان تنظیمونو مرسته پاکستان کوله څوك چې زموږ مرسته کوي ددوي هم کوي. زموږ له پاکستان سره اوږده پوله ده لکه څنګه چې هغه دکمونستانو دشړلولپاره د پاکستان مرستې ترلاسه کولې موږ هم ترلاسه کولې.

پ: پدې باب چې ستاسې تر څنګ پاکستاني نظامیان جنګیږي څه نظر لرئ؟

ځ: دا تورونه ټول دروغ دي - پاکستانیان ددې په ځای چې موږ ته عسکر رالیږي زموږ له نظره بهتره داده چې خپل جنګیالي او ځواکونه کشمیر ته ولیږي. دطالبانو حرکت دهیڅ بهرني لاري مرستې ته ضرورت نلري. موږ اول په خپل خداي او بیا په خپل ځان او ولس باور لرو.

پ: څوك درسره مالي مرستې کوي؟

ځ: دحرکت په پیل کې محلي خلکو راسره د پیسو او وړو مرستې کولې خو چې کندهار اوهرات موونیول ګمرکونه

پاتې (۳۰) مخ (۳۰) ستون

دریک شب قدر

شب ، انیس رازمشتاقان تویی
شب ، تو آن زنگي بت افسرده یي
شب ، لباست را چرا کردي سیاه
چادرقیرین فروهشتي به چرخ
پاس دارد مرترا زندانیان
زاهدان درشب به سوي حق شوند
مصطفي درشب به بزم حق شتافت
هرکه رابیني به شب دارد نیاز
شب ، توای منزلگه الطاف رب
چادرمسکین چومي آري بدوش
ایزدت في الجمله برخوردار کرد
بخت خوش بادا مرا اي شب نصیب
لیکن شب قدراست وقدرش بس زیاد
هان ، کمینا روبه سوي حق بیار

شب، جلیس محفل شاهان تویي
عالمی رادردل خود برده یي
اي که داري رازمردم را پناه
چاره جوي عاشقان کام تلخ
چاشنی بخش مذاق صوفیان
مردمان درشب بکوی حق روند
نه فللهواقلب دریك شب شگافت
غافل اندرشب کجا آرد نماز
اي نزول رحمت حق را سبب
جمله راسازي بحال خود خموش
درکتابش نام تو تکرارکرد
رویداده اتفاقی بس غریب
ذکرحق دارد به دل حتي جماد
اشك وآهی کن به درگاهش نثار

تاکه لطفش شامل حالت شود
اخترمسعود درفالت شود

رواق زبرجد

رسید مژده که ایام غم نخواهد ماند
چنان نماند ، چنین نیزهم نخواهد ماند
من هرچه درنظریار خاکسارشوم
رقیب نیزچنین محترم نخواهد ماند
چوپرده دار به شمشیرمیزند همه را
کسی مقیم حریم حرم نخواهد ماند
چه جای شکروشکایت زنفس نیك وبداست
چوبرصحیفه هستی رقم نخواهد ماند
سرود مجلس جمشیدگفته اندابن بود
که جام باده بیاورکه جم نخواهد ماند
غنیمتی شمر ای شمع وصل پروانه
که این معامله تاصبحدم نخواهد ماند
توانگرا دل درویش خود بدست آور
که مخزن زر وگنج درم نخواهد ماند
بدین رواق زبرجد نوشته اند بزر
که جزنکوئی اهل کرم نخواهد ماند
زمهربانی جانان طمع مبر حافظ
که نقش جورونشان ستم نخواهد ماند
(حافظ) رحمة الله

[illegible]

مرا در نظامیه ادراربود
مراستاد را گفتم ای پرخرد
چومن داد معنی دهم درحدیث
شنید این سخن پیشواي ادب
حسودی پسندت نیامد زدوست

شب وروز تلقین وتکراربود
فلان یار برمن حسد می برد
برآید بهم اندرون خبیث
بتندی برآشفت،گفت العجب!
چه معلوم کردت که غیبت نکوست؟

گراو راه دوزخ گرفت ازخسی
ازین راه دیگر تو دروی رسی

ازبوستان سعدی

بزم عرفان

زلباس پارسایي بخداکه عار دارم
زشراب بزم عرفان اثرخماردارم
سرمن فرونیاید به دوصد هزار کونین
دردل کشاینگرکه چه کار وباردارم
به فضاي سینه بازآکه چه عالمیست دروي
که هزارعرش اعظم به یکي کنار دارم
پرجبرئیل سوزد به هواي سدرهٔ دل
وبنگربه این قلمروکه چه شهواردارم
به مقاله هاي قاسم نگرید اي عزیزان
که چنین زیاده گویي به هوای یاردارم
سیدقاسم «قاسم» ، پنجشیري

بیت الغزلها

نکنی جرأت کاریکه نبایدکردن
گرشوی آنقدر آگه که خدا میداند
***
چراغ ابلهان عمریست میسوزد دراین محفل
چه باشد یك شربالا فروغ طبع آگاهی
***
چه داندکسی غیرپروردگار
که فردا چه بازی کند روزگار
***
زاضطراب دل اهل زمانه بیخبرند
بود تپیدن بسمل به پیش طفلان رقص
بیا موزمت کمیبای سعادت
زهمصحبت بد جدایی، جدایی !

قطعه

زنهارتاتواني اهل نظر میازار
هریدکه گفت دشمن درحق ماشنیدي

دنیاوفا ندارد اي نور هردودیده
یارب که مدعي راباداد زبان بریده

پریشان اندیشه

گردآورنده: تبسم

گفته های گوهرین

قدرت ،بدون کوشش در راه صلح ، کار را ، تصادم میکشاند .
قدرتیکه بارضایت خاطر همراه نباشد ،اصلاً قدرت نیست. جنگ سرد یعني مقابله نفرتها .
دشمن ترا همواره در نابایسته ها تایید ودوست باتو مناقشه میکند .
بهنگام تهاجم کلب ، گرگ رابیاري مخواه .
کسانیکه اراده دفاع ازخود ندارند ، فاقد استقلال اند.
ازهمه دستهاي دراز وآستین هاي کوتاه توقع خیر مدارید.
آنرا که دامن دیبا ودرازاست ، چگونه دست دراز نباشد.
چراغ صلح راباآتش سلاح نمیتوان افروخت .
آزاد اندیشي درمحکومیت خطرناك است ، ولي این خطر بهایي است که براي آزادي پرداخته میشود.
مساعدتهاي بیدریغ به هواداران ،اسباب سقوط دولتها را فراهم میآورد.

باخون شهید صفحتی تازه کنیم

ورق طلایی جهان پرآوازه کنیم

درین تازگي مجموعه اشعار سیدقاسم که یکی از سخنوران ، روشنفکران وادباي مشهور افغانستان در اوایل قرن بیستم بوده از چاپ برآمده است !

سید قاسم پنجشیري واقعیات وناملایمات زمان را دررشته اشعار نغز کشیده ودرفنون ادبي مهارت زیادي ازخودنشان داده است . اشعار سیدقاسم که غالباً درشکل قصیده وغزل ترتیب شده ، اززمره اشعار خاص است که توانایي نفوذ درسینه ها وخاطره ها را دارد. سیدقاسم پنجشیري طبع روان داشته واشعار زیادي سروده به حیث حاکم ودفتر دار عمري رابسر آورده ، امادیواني ازخود بیاد گار نگذاشته است ، اشعار قاسم سینه به سینه وبصورت پراگنده منتقل میشده تااینکه آقاي منیلاب رحیمي پس از دوازده سال تلاش موفق شد مجموعه اي ازاشعار او رابه‌زیور طبع بیاراید. آقاي منیلاب رحیمي ازمحققین ونویسندگان تواناي کشور میباشد وبدون شك جمع آوري دیوان قاسم یکي از ارزنده ترین کارهاي ادبي وي میباشد.

کارآقاي رحیمي درخورتحسین است ومثالی است درزمینه اینکه باید نویسندگان ومحققین دیگر نیز براي روشن شدن آثار سایرادباي فراموش شده اقدام نمایند ودرخت ادب کشور رابارور تر بسازند . توجه خوانندگان خودرا بیك غزل انتخابي ازدیوان قاسم جلب مینمائیم.

درست بخوانیم و درست بنویسیم

رابطه وموصول مرکب ،ترکیب هایي که معناي واحدي دارد ، باید یکجا نوشته شود

الف :رابطه وموصول مرکب همیشه باید یکجا نوشته شود :
آنکه ، آنچه ،چنانکه ،چنانچه ،اینکه ،همینکه، همانکه ،چونکه، چندانکه .
ب: ترکیب هاي استفهامي یا عادیي که از(که) و (چه)ساخته میشود باید یکجا نوشته شود :
چرا ، چگونه، چطور، چسان، چقدر ،چیست ،کیست .
ج ، ترکیب هایي که معناي واحد دارد باید یکجا نوشته شود :
پیشرفت(ترقي)، پیشنهاد- پروپوزل - (Proposal)، پسمانده، (غیرمترقی)، پیشامد(رفتار، واقعه) رویداد(حادثه، واقعه)دلکش ، دلستان ، دلجویي دلاویز، دلارام، دلاور، شباهنگ، همآهنگ ، شباویز ، صاحبدل ، خوشبخت ، نیکبخت ، صاحبجمال .

###

د وسلو تر ټولو لو ..

اواقتصادي منابع موثر لاسه کړي .

پ : دافغانستان له پخواني پاچا ظاهرشاه سره مو اړیکي څه ډول دي او آیا فکر کوي چي هغه دي په نږدي راتلونکي کي خپل هیواد ته راستون شي چي دسولي لپاره خپل رول ترسره کړي ؟

ځ : موږ دظاهرشاه په څېر ټولو خلکو ته بلنه ورکوو چي راشي اوډ خپل هیواد په ودانولو اوسولي راوستو کي مرسته وکړي موږ دهیڅجا دراتلو مانع نه یو پرته له هغو چي دکمونست حکومت ملګري ووا و افغانستان یې وران کړي .

پ : که موټول افغانستان ونیو تر کومه حده دیته تیار یاست چي هلته دي ازاد انتخابات ترسره شي ؟

ځ : که موټول افغانستان ونیو زموږ په نظرترټولو مهمه اواساسي دنده به داوي چي له ټول ولس څخه وسلې راغونډې کړو څکه موږ فکر کوو چي وسله درلودل دسولي په جهت کي بیا هم یوخنډ ده له هغه وروسته بل ګام به مو د هیواد دبیا ودانولو اود هیوادوالو دبیرته راستنولواوځاي په ځاي کولوپه لوروي .

پ : تاسو وایاست چي اساسي دنده مو دوسلو راټولول دي ددي مانا داده چي دجنرال دوستم اومسعود دسیمو ترنیولو به جګړه نه ودروي ؟

ځ : دوسلو له ټولولوچي فارغ شو بیا به دشریعت دتطبیق کارته خلاص شو دا زموږ هدف ده اوزموږ دټولو بریالیتوبونو وجه هم همداده .

پ : دبنیادګرو اوښت پالوډلوپه باب مو څه نظر وي لکه په مصر او الجزایر کي چي کومي ... دي ؟

ځ : زموږ هیله او آرزو داده چي اسلامي نړي یوموټي وګورو خو هغه څه چي په مصر او الجزایر کي تیریږي دهغي په اړه زموږ له زړونو ویني څاڅي موږ غواړو چي زموږ ټولو ترمنځ اسلامي ورور ولي یوازني اواساسي رابطه وي .

پ : څوآیا دداسي اهدافو د لاس ته راوړلولپاره دتشدد لاره څپلول تائیدوي ؟

ځ : موږ دا په کلکه ردو چي دتشدد او ارعاب صفت دي په اسلام وتپل شي خو څه چي په الجزایر کي وشول هغه داو چي اسلام پلوو انتخابات وګټل او حکومت کول ددوي حق و څکه ولس ددوي ټاکلي وو باید داسي یوسیستم ایجاد شي چي د اسلام پلووحقوق وساتي او پرته لدي چي عامه خلکوته څه زیان ورسیږي .

پ : دهغو عربانو په باب چي لا تراوسه هم په افغانستان کي دي څه وایاست ،اوترکوم حده یي مرسته کوي چي دخپلو هیوادو امن او استقرار ګډوډ کړي ؟

ځ : ډیرو عربانو دخپلو افغاني ورونو سره یوځاي دکمونستانو په ضد په جهاد کي ګډون درلود .ددي وظیفي له ترسره کولو وروسته زه داسي بهانه او ضرورت نه وینم چي هغوي دي زموږ له خاوري دخپلو حکومتونو پخلاف کار واخلي .موږ ورته ویلي چي تاسو زموږ درانه او ګران میلمانه یاست په جهاد مو وياړو خودانشومنلاي چي زموږ خاوره دنورو اهدافو لپاره استعمال شي .

ربښتیني مجاهدین هغه دي چي دروسانو پخلاف جنګیږي لکه تاجکان دداسي چا له مرستي څخه به هیڅکله لاس وانخلو.

###

نکته هاي درتربیت نفس :

ازگلستان سعدی

* بزرگي راپرسیدند باچندین فضیلت که دست راست راهست ،خاتم درانگشت چپ چرا کنند،
گفت : نداني که اهل فضیلت همیشه محروم باشند .
* دوکس مردندوتحسر بردند : یکي آنکه داشت ونخورد ودیگر آنکه دانست ونکرد .
* زرازمعدن به کان کندن برآید وازدست بخیل بجان کندن .
* هرکه برزیردستان نبخشاید ، بجور زبردستان گرفتار آید،
حق جل وعلی می بیند ومي پوشد وهمسایه نمی بیند ،میخروشد.
نعوذ بالله اگرخلق غیب دان بودي،کسی بحال خود ازدست کس نیاسودی
* هرکه به تأدیب دنیاراه صواب نگیرد،به تعذیب عقبی گرفتارآید.
* حلم شترچنانکه معلوم است اگرطفلی مهارش گیرد وصد فرسنگ برد ،گردن از متابعتش نه پیچد . اما اگر دره یي هولناك پیش آید که موجب هلاك باشد وطفل آنجا به نادانی خواهد شدن ،زمام ازکفش درکسلاندوبیش مطاوعت نکند که هنگام درشتي ، ملاطفت مذموم است وگویند دشمن به ملاطفت دوست نگردد ،بلکه طمع زیادت کند.
* یکي راپرسیدند عالم بی عمل به چه ماند ،گفت : به زنبور بی عسل . تلمیذبی ارادت . عاشق بی زراست وروندهٔ بی معرفت ، مرغ بی پر، عالم بی عمل درخت بی براست وزاهد بی علم ،خانه، بی در .

گویند : شد بهار!

آندم که لاله ها چوشهیدان به رستخیز
رنگین کفن بسرآمده محشربپاکنند
وانـدم کـه بلبلان جفاپیشه خزان
برشاخ ها برآمده ،گل را صدا کنند!
گویند : شد بهار

***

آنـدم کـه بردوساحـل دریاکبوتران
پرهاي نازنین بهوس شستشودهند
وان سومیان موجه گرداب خیـل نو
عشق گسسته را بـه تغزل رفـوکنند
گویند : شد بهار

***

گویند شد بهار، ولیکن مراچه سود!
زیراکه هیچ نغمه نخندد به کام مَن
بشکسته انـدشـاخ گـل آرزوي مـن
اشك است وآه، مونس هرصبح وشام من

***

بشگفت شنبلید وبخشدید یاسمن
اینهم بهار، مصرع رنگین روزگار!
آیاشگفته میشودم غنچه سراز ،
زین غنچه شگفته وزین خندهٔ بهار؟
این رنج من زچیست ؟
که هرلفظ من به شعر ،
خاموش مي نشیند وفریاد میشود!
اي غنچه هاي وحشي وآزادکوهسار،
اي بلبلان نغمه گرومست وبیقرار ،
وي نوبهار،اي گل شاداب روزگار،
آخرا کنید برورخ من هم تبسمي .
باري ، ترنمی،
کزمهربي ریا ، دل من شادمیشود .
باتذکاراندکي تصرف .
شعراز: پوهاند محمد رحیم (الهام)

فرجام آشوب

اقوامی که دست به شورش مي زنند ، تنها
براي چند خودکامه ونابودي خودشان قدم برمیدارند.
باغریزه بي بهمان کوربي غریزه کرم ابریشم که باتنیدن تارهاي البسه
بي فاخر براي برگزیده گاني که طبیعتي برترازوودارند جان مي سپارد
«سویفت»

نیایشها

ای روی تومـاه عالـم آرای همه
وصل تو شب وروزتمنای همه
گرباد گر ان به ازمنی ، وای بمن
گرباهمه کس همچومنی،وای همه
یارب مکن ازلطف پریشان مـا را
هرچندکه هست جرم وعصیان مارا
ذات توبود غني وما محتاجیم
محتاج به غیرخودمگردان مارا
***
ای دل برما، مباش بی دلبرما
یك دلبرما ،به ازدوصد دل برما
ني دل برما ، نه دلبراندربرما
یاد ل برمافرست یا دلبرما
***
یاسرکسی سپهر را سرکوبي
یا خاروخس زمانه را جاروبی
بیزارشدیم ازین لیشمان یارب !
عزلی، نصبي، قیامتی ، آشوبی

جرمنی، بنیاد گرایی اسلامی را مسئله درجه اول درکشورش می پندارد

برلین
اداره حفظ قانون درجرمنی بنیادگرایي اسلامي رامسئله عمده ودرجه یك درآنکشور خوانده است .

طبق گزارش روزنامه « نواي وقت » این اداره گفته است : درصورت برخورد وتصادم جرمني بایکي ازکشورهاي اسلامي حادثه بس هولناکي در آنکشور رخ خواهد داد .

گزارش درادامه حاکیست : در شرایط فعلي ۱۳ سازمان اسلامي درجرمني به فعالیت هاي خویش ادامه میدهند که تعداد اعضا وهواداران مربوط به این سازمان ها حدود سي ویك هزارنفرمیباشد ولي درپهلوي آن ازجمله دوملیون مسلمان ساکن درآنکشور تعداد بیشتر آنهابه میانه روي وصلح معتقد اند .

###

نبوي لارښوونې

له حضرت عبدالله ابن عبدالرحمن ابن ابوصعصعه (رض) نه روایت دي چي ماته ابوسعید خدري (رض) وويل : دستاګډي اوصحراډېره خوښه ده . نو کله چي په صحراکي خپلې ګډې ساتې اولمانځه ته آذان کوي نوآذان ښه په زوره کوه . ځکه چي دموذن دآذان آواز چي پېريان یاانسانان یاڅه شي واوري نودقيامت په ورځ به هغه دده لپاره ګواهي ورکوي . ابو سعید خدري (رض) وايي : داخبره مي حضور(ص) څخه اورېدلي ده

(بخاري شريف)

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

نمبرمسلسل (۱۳٦۰) سال بيستم يكشنبه(۱۷)حمل ۱۳۷٦

قيمت يك شماره (۱۰۰۰) افغانی (۳ روپيه)

احكام دين خودرابياموزيم

مسائل متفرقه جنازه

۸ - بعدازفارغ گرديدن ازنماز جنازه بايد جنازه فوراً به قبرستان انتقال داده شود .

۹ - اگرميت بچه كوچك بود، پس اورا بردست هابلند نموده تاقبرستان انتقال دهند با ترتيبي كه تايك قسمت يك نفر، بعد نفر ديگر وبه همين صورت به نوبت آنرا ببرند .

۱۰ - اگرميت آدم بزرگ بود، پس اورا برچارپائي وغيره ببرند . چهارپايه چهارپائي را چهارنفر بلند نموده وبرشانه هاي خويش گذاشته وببرند .

۱۱ - جنازه رابدون ضرورت وعذر، برچيزي سواره بردن ، مكروه است و اگرعذري باشد، پس بدون كراهيت ، جائز است .

۱۲ - بردن تيز ترجنازه مسنون است، اما آنقدر تيز نبرند كه ميت بلغزد .

۱۳ - رفتن درعقب جنازه مستحب است، اگرچه پيشاپيش آن رفتن نيز جائز است ، اما اگرهمه مردم جلو بروند، مكروه است .

دافغانی سری مياشتی ټولنې رئيس په يوه مطبوعاتي كنفرانس كې

بهرنۍ موسسې او اسلامي هيوادونه دې عملاً له موږ سره مرستې پيل كړي

پرسږ كې ده چي سركال په مياشت كې (۳۰۰۰) ټنه مواد دمواد په بېې ... كسانو ووېشل شي

كابل - دوري ۱۹ مه :

دافغاني سري مياشتي ټولني رئيس تيره ورځ ديوه خبري كنفرانس په ترڅ كي دبهرنيو خصيريه موسسو دلاربانو اوعملي مرستو غوښتنه وكړه . دشريعت غږ رادیو دریوټ په اساس په هغه مطبوعاتي كنفرانس كي چي دكورنيو اوبهرنيو ژورنالستانو په ګډون ددغه ټولني په مركزي جوړښي و دافغاني سري مياشتي دټولني لمړي رئيس مولوي سيد احمد غفوري دكابل ښار اړو اومستحقو كسانو لپاره دغي ټولني دبشردوستانه خدمتونو ... دمشرتابه هيئت دكار اوفعاليت دڅرنګوالي ، دهيواد دټولو ولايتونو مستحقو كسانو ياندي دخوراكي موادو دويش په باب خبري وكړي .

ده وويل : پخوا دخيريه موسسو له لاري په هره مياشت كي دلويو غرب... لپاره اوجانو په ګډون ۱۵۰ ټنه دمرستي مواد په ميراو والوويشل كيدل اوپه پام كي ده چي په روان كال كي هره مياشت (۳۰۰) ټنه مواد په اړو كسانو باندې وويشل شي .

ريوټ زياتوي مولوي غفوري په دې كنفرانس كي دبادغيس اودكابل په شمال كي له خلكوسره دمرستو په باب دڅېنو بهرنيو موسسو په ژمنو باندي چي په عمل كي يې تحقق ونه موند انتقادوكړ او ددې غوښتنه ئې وكړه چي بهرني خيريه موسسې اومسلمان هيوادونه دې په عمل كي زموږ له هيوادوالو سره مرسته وكړي اودافغاني سري مياشتي ټولني سره په هماهنګي كي دې خپلې مرستې په مستحقو كسانو باندې ووېشي .

امام علی رحمانوف درخطاب به اجلاس وزرای خارجه كشورهای مشترك المنافع :

بايد كنفرانس صلح به اشتراك همه نيروهای درگير افغانستان داير گردد

دوشنبي - ۱٦ حمل :

امام علي رحمانوف رئيس جمهور تاجكستان ظهر روز گذشته دراجلاس مشورتي وزيران امور خارجه كشورهاي آسياي مركزي وروسيه كه درتاجكستان برگزارشد خواستار تشكيل كنفرانس صلح باشركت تمامي گروه هاي درگير دربحران داخلي افغانستان گرديد .

قرارگزارش راديو ايران رئيس جمهور تاجكستان پيشنهاد كرد براي حل بحران افغانستان بايد يك كنفرانس صلح باشركت همه گروه هاي درگير جنگ داخلي اين كشور برگزار شود و درآن نماينده گان سايركشورهاي كه از مشكلات سياسي اين كشور متاثر اند شركت كنند .

رحمانوف كه دراجلاس مشورتي وزيران امورخارجه كشور هاي آسياي مركزي و روسيه سخن ميگفت درباره زمان ومكان برگزاري كنفرانس پيشنهادي خود مطلبي نگفت .

وي كه مرزهاي كشور باافغانستان را به عنوان مرزجنوبي كشور هاي مستقل مشترك المنافع به آن كشور قلمداد مي كند از روند اوضاع درين كشور همسايه تاجكستان ابراز نگراني كرد وبااستناد به مصوبات اجلاس الماتاكه دراكتوبر سال گذشته عيسوي برگزارشده بود باردیگر خواستار ابتكار وسرعت عمل بيشتر كشور هاي حوزه آسياي مركزي درحل اين بحران بدون دخالت درامور داخلي افغانستان شد .

وي ضمن حمايت ازطرح رويكار آمدن يك حكومت مصالحه ملي درافغانستان ضرورت مشاركت همه نيروها وگروه هاي سياسي را درچنين حكومتي مورد تاكيد قرار داد .

معاون وزارت خارجه طالبان با ديپلومات امريكايي ديدار كرد

اسلام آباد - ۱٦ حمل :

طالبان باردیگر خواستار بهبود روابط ديپلوماتيكي خود باامريكا گرديدند .

ملاشيرمحمد ستانكزي معاون وزارت خارجه اداره طالبان باجورج لوارگ ديپلومات سفارت امريكا دراسلام آباد راجع به مسايل مورد علاقه واوضاع جاري افغانستان ديداروگفتگو نموده است .

خبرگزاري فرانس پرس گزارش مي دهد كه مذاكرات معاون وزارت خارجه طالبان باديپلومات امريكايي بيشتر بر تحولات اخيرافغانستان و نگراني هاي طالبان ازناحيه تحركات نظامي ائتلاف جنرال دوستم درشمال افغانستان متمركز بوده است .

قابل تذكر است كه درديدارمذكور البين مراچين سرقنسل امريكا مقيم پشاور نيز شركت نموده بود .

مذاكرات هند وپاكستان زمينه كاهش اختلاف دوكشور را مساعد ميسازد

روزنامه هندوستان تايمز

اسلام آباد - ۱٦ حمل :

آغاز مذاكرات وگفتگو هاي دوجانبه درشرايطي كه مناسبات هندوپاكستان روز بروز وخيم ترمي شد، اقدام خوبي براي رفع اختلافات ميان دوكشور محسوب مي گردد .

روزنامه هندوستان تايمز چاپ دهلي جديد باذوج اين مطلب نگاشته كه مذاكرات سكرتر هاي وزارت هاي خارجه هند وپاكستان زمينه را براي كاهش اختلافات ذات البيني ميان دوكشور فراهم گردانيده ولازم است كه دوكشور اين گفتگو ها را هرچه جدي تر دنبال نمايند .

روزنامه نوشته كه قرار است هيئت هاي بلندرتبه هند و پاكستان بعداز خاتمه مذاكرات شان دردهلي جديد اينبار دراسلام آباد به گفتگو ومذاكره بنشينند ومسايل مورد منازعه خود را در دور دوم مذاكرات حل وفصل نمايند .

اين روز نامه نگاشته كه اعتماد متقابل ميان هندوپاكستان متضمن بهبود روابط ومناسبات دو كشور درحل مسايل مورد اختلاف بخصوص حل قضيه كشمير مي باشد .

منبع دراخير متذكر شده كه افتخار كامیابي درمذاكرات به محمد نوازشريف ودیوگورا صدراعظم هاي پاكستان وهند منسوب بوده وحكومات دوكشور وظيفه دارند كه اين مناسبات را بتدريج توسعه وگسترش بدهند .

غفوري له ژورنالستانونه وغوښتل چي دافغاني ټولني سره سم زموږ دبې وزلوهيوادوالو ارتباوي نړيوالو اوپه تيره بيا خيريه او مرستندويه موسسو اوسازمانونوته واستوي

جامعه

سخنګوي كمشنري عالي سازمان ملل درمورد علت افزايش انتقالات مردم گفت كه مشكل عمده فرار اهالي شمال كابل ، تشديد نبردها در خطوط مقدم جبهه ميان طالبان ومخالفان آنهامي باشد وافغانها هنوز هم به اثر تشديد جنگ ها مجبور به ترك مناطق خويش به قصد شهركابل وپشاور پاكستان مي گردند .

وي افزود كه دليل ديگر كوچ كشي اهالي شمال كابل، مشكل اقتصادي آنان بوده كه نه تنها اين مشكل برسر آنها سايه افگنده بلكه زندگي اكثر افغانها را تهديد مي كند .

روزنامه اسوشي ايتد پرس نيز راجع به مشكل مهاجران افغان نوشته است كه هجوم سيل جديد مردم از شمال بجانب شهركابل بعداز آغازنبرد هاي سنگين ميان طالبان و قواي احمد شاه مسعود بوجود آمده است .

روزنامه مدعي شده كه طالبان به تعقيب آغاز حملات نيرو هاي مسعود ، دهقانان ولايات پروان ، كاپيسا را مجبوربه ترك مناطق شان كرده اند واخراج دهاقين از منازل ومزارع شان درصورت ادامه آن نتايج وخيم وزيانباري را بدنبال خواهد داشت .

نطاق كمشنري عالي سازمان ملل درمورد فعاليت هاي اين كمشنري وساير مؤسسات بين المللي براي رفع مشكل مهاجران داخل افغانستان گفت كه نگراني جوامع بين المللي ازاين ناحيه فوق العاده زياد بوده ومشكلات صحي واقتصادي مردم بخصوص درشهركابل روبه افزايش مي باشد .

وي ازاوضاع مهاجران درهرات نيز نگراني كرده افزود كه وضعيت اقتصادي واجتماعي اهالي بادغيس كه به اثر جنگ هاي اخير به ولايت هرات پناهنده شده اند، وخيم مي باشد وبارندگي هاي اخيربرمشكلات آنان افزوده است .

نطاق كمشنري عالي سازمان ملل بيان داشت كه ما به مهاجران داخل افغانستان مواد خوراكه ، خيمه ، كمپل، فرش پلاستيكي وسامان و اسباب منزل تهيه ومساعدت مي كنيم وبرنامه غذايي سازمان ملل باكميته بين المللي صليب سرخ نيز كماكان حوايج روزمره مهاجرين درهرات راتأمين مي كنند .

نامبرده اوضاع مهاجران تازه وارد درهرات را نگران كننده توصيف نموده ، خواستار كمك هاي اضطراري جامعه بين المللي دراين زمينه گرديد .

افغانها وجوامع ...

دربيانيه رسمي وزارت خارجه قزاقستان كه درالماتا پايتخت اين جمهوري منتشر شده ، تذكررفته كه قزاقستان خود را پابند ومتعهد به فيصله هاي جلسات سازمان ملل متحد واجلاس سال گذشته جمهوري هاي آسياي ميانه درآلماتا راجع به حل بحران افغانستان مي داند وبرحل مسالمت آميز قضيه اين كشور جنگزده تاكيد مي كند .

بيانيه وزارت خارجه قزاقستان افزوده كه لازم است جناح هاي درگير افغان بشمول طالبان ازجنگ كنار رفته و راه هاي مسالمت آميز قضيه افغانستان را جستجونمايند .

دراجلاس سال گذشته جمهوري هاي آسياي ميانه درالماتا فيصله به عمل آمد كه حل بحران افغانستان، تنها ازطريق مذاكرات صلح آميز ميان گروههاي متخاصم افغان ممكن مي باشد وبه طالبان هشدار داده شد كه بجاي ادامه جنگ، راه مذاكره وتفاهم را اختيارنمايند .

دربيانيه تذكر بعمل آمده كه قزاقستان تشكيل دولت مردمي وفراگير زاكه اراده وخواسته كليه گروههاي افغان درآن مضمر باشد ، محور اساسي پايان جنگ درافغانستان محسوب مي كند وازهمه اطراف داخلي قضيه مي خواهد كه به اين ضرورت مبرم توجه جدي مبذول بدارند .

وزارت خارجه قزاقستان دراخير ازمجامع بين المللي مطالبه كرده تا تلاش هاي ديپلوماتيكي خود در جهت اعاده صلح درافغانستان راافزايش دهند تا با منتفي شدن جنگ، زمينه براي اعمارمجدد اين كشورفراهم گردد .

د پوليو پرضد ...

ضد دواكسين ملي مبارزه پيل شي . پدې مبارزه كې به ۱۳ زره تنه دروغتيا دچاروكاركوونكي اورضاكاران دافغانستان په لري پرتو سيمو كي هغو ماشومانوته دپوليو ضد واكسين ځاځكي په خوله كي واچوي چي دپنځو كالونه كم عمرونه لري . ددې مبارزې دوهم پړاو به دمې په مياشت كي عملي شي .

دواكسين پدغه كمپاين كي چې دعامې روغتيا دوزارت ، يونيسف اونوروخيريه موسسو په ګډه همكاري ترسره كيږي (۳۸ زره) ماشومان دفلج په ضد واكسين كيږي .

دافغانستان لپاره ديونيسف داطلاعاتو ماموراېجربې هارپلي وايي هيله لري چي په جګړه اخته ولې به ددغي ملي مبارزي په وخت كي اوربند مراعات كړي . هارپلي وايي : موږ سره طالبانو اوجنرال دوستم دواړو وعده كړي چي دوي به دپوليو ضد واكسين دملي ورځي په مناسبت اوربند ونه كړي . دوهم پړاو په موده كي چي دمې په مياشت كي پيل كيږي داوربند مراعات وكړي . زه هيله لرم چي په مقدمو جبهوكي به ټولوقومانداناناوته خبروركړل شوي وي چي دوي به هغوناريته وو، ښځو او ماشومانو ته چي دواكسيناسيون مركزونوته ځي اجازه وركړي .

دهارپلي په پوښتنه وشوه چي دافغانستان اكثروبرخوكي لاژمي دي چي داحالات به پدغه مبارزه باندي اغيزه ولري اوكه نه ؟ هارپلي پدې باب باندي وويل : موږه هيله لرو چي په دېرو سيموكي به ستونزې نه وي موجودي، موږ تخمين كوو چي په باميانو اودهندوكش په شاوخواكي كه ستونزي وي نو ددغوسيموماشومان به په راتلونكي وخت كي واكسين شي اودوي به دغه فرصت له لاسه ورنكړي .

دا په دافغانستان په تاريخ كي لومړي ځل وي چي موږ په دافغانستان دهري ولسوالي اوكلبو كي ماشومانوته واكسين وهو . دملګرو ملتو ديونيسف داداري دغه مامور افغانانو او په جنګ كي شاملو خواوته هيله كوي چي پدغه ملي مبارزه كي كومك وكړي .

هارپلي زياتوي : موږ په جنګ كي دشاملوخواوونه توقع لرو چي وسلې به ځمكه كيږدي او د پوليو ضد واكسين په مبارزه كي برخه واخلي . موږ هيله لرو چي دوي به نه يوازې جنګ بند كړي بلكه دښځو، نارينه وو اوماشومانو سره به مرسته وكړي چي دواكسيناسيون مركزونوته ورسيږي .

هارپلي وايي افغانان په ډيروطريقو ره دمينډو اوماشومانو سره كومك كولاي شي چي خلك دواكسيناسيون مركزونوته ورسيږي .

دغه دول دې پلرونه اوميندې تشويق كړي چي خپلو ماشومانوته واكسين ووهي .

امريكا از توليد و ...

اين مرجع، استعمال مواد مخدر درپاكستان را خطرناك توصيف كرده متذكر شد كه درحال حاضر بيش از سه صدهزارنفر به مواد مختلفه نشه آور معتاد بوده كه يكصدوپنجاه هزارتن آنان را معتادان به هيروئين تشكيل مي دهد .

گفته مي شود كه بيشتر افراد عادي به هيروئين ازسگريت وتنباكو استفاده مي كنند ولي برخي ديگر ، مواد مخدر را ازطريق پيچكاري دربدن خود تزريق مي نمايند .

حكومت پاكستان جهت جلوگيري از توليد وقاچاق مواد مخدر برنامه جديدي را روي دست گرفته اما تابحال موفق به اعمال اين پروسه نشده است .

درگزارش اداره بين المللي كنترول مواد مخدر تذكر به عمل آمده كه سه راه عمده براي قاچاق مواد مخدر از افغانستان به پاكستان وسپس به بحيره عرب وجود دارد ازجمله يكي از راه هاي صادراتي اين مواد ازطريق سرحدات جنوب افغانستان به بلوچستان پاكستان مي باشد كه بعداً مواد مذكور به ايران، تركيه ، اروپا وامريكا انتقال داده مي شود .

د روسيې په ..

يوه مطبوعاتي كنفرانس كي خبريالانوته څرګندې شوي دامريكا غږ راديو خبريال داسي ريوټ وركړي .

پدې غونډه كي له تركمنستان نه پرته دمنځنۍ آسيا دټولو هيوادونو خارجه وزيرانو ګډون كړي وو دتاجكستان دبهرنيو چارو وزيرطلبك نظروف وويل چي دتركمنستان خارجه وزير همداوس په نوي ډيلي كي دناپيلوهيوادونو دبهرنيو چارو دوزيرانو په غونډه كي ګډون كوي . نظروف داهم وويل چي دغونډې دګډون كوونكو هيوادونوترمنځ پدې غونډه كي دوه ارخيزه او څو ارخيزو مناسباتو ديراخولو او دسيمې دسياسي اوضاع دكره كتني اودتاجكستان دسياسي وضعي دتحليل په باره كي بحث اوخبري شوي هغه وويل دمنځنۍ آسيا او روسيې خارجه وزيرانو په خپلو خبروكي دتاجكستان دجمهوررئيس امام علي رحمانوف اودمخالفانودمشر دژر كيدونكي ملاقات ملاتړاوطرفداري كړيده .

دغونډې ګډون كوونكو دافغانستان دمتشنجې سياسي اوضاع په باره كي وويل چي دافغانستان شخړه يواځې دسياسي خبرواترو له لاري حل كيدي شي . دتاجكستان خارجه وزيرطلبك نظروف دافغانستان حالات دتشويش وړوبلل، هغه دافغانستان دشخړو دټولو ډيدخلو خواونه وغوښتل چي دملي يو والي دحكومت دجوړولو له لاري نه خپل مشكلات اوستونزې حل كړي .

دموا ...ى "محمدى"

يوموټي شي او دافغانستان نه دظلم اودبي عدالتي تخرتول كړي .

نقل و

مواضع خود به ولايات شرقي افغانستان فرستاده است .

قراريك گزارش ديگر جنرال عبدالرشيددوستم و كريم خليلي نيز بااعزام نيروهاي تازه نفس به ولايت بادغيس ومنطقه شيبر درشمال كابل مواضع خودرا تقويت كرده اند .

ازسوي ديگر احمدشاه مسعود نيز خودرا براي حمله برمواضع طالبان درشمال كابل آماده ميكند .

قراريك خبرديگر يك هفته نامه سازمان ملل متحد دراسلام آباد نيز اعزام حدود سه هزار نيروي طالبان ازكابل به هرات درغرب كشور را تائيد كرد .

مهاجرين

درآينده نزديك حل وفصل مي گردد .

صدراعظم پاكستان افزود كه گندم به ارزش بيش از بيست و چهار مليارد روپيه پاكستان ازخارج وارد پاكستان مي شود وامید است كه بارسيدن اين مقدار وافر مشكلات مردم حل گردد .

نوازشريف درمورد مشكل مهاجران افغان ازاين ناحيه گفت كه افغانها برادران ماهستند آنهاهم باقحطي وگرسنگي درداخل وخارج كشورخود دست وپنجه نرم مي كنند .

وي افزود ماازهيچگونه مساعدت با مهاجران افغان دريغ نمي ورزيم .

صدراعظم پاكستان دراخير گفتگويش متذكرشد كه طي دوسال آينده مواد خوراكي بشمول گندم بطور قابل ملاحظه اي افزايش پيدا خواهد كرد كه مواد مذكور علاوه بر خر د پاكستان به افغانستان وساير كشورهاي همسايه نيز صادرخواهد شد .

په سالنګ كې

شورا ځواكونو ددغه عملياتو په لركي يوتن طالب اسيراوځوميله سپكه وسله ترلاسه كړي ده .

دبيبل ريوټ په اساس ددفاع شورا دوو جنګي جيټ الوتكو تيره ورځ دبادغيس ولايت مركز قلعه نوباندي بمباري وكړه ددغه بمباري له امله چي دمازديګر ددري بجو په شا او خواكي وشوه دطالبانو پومركز له منځه تللي اوڅه دپاسه (۲۰) طالبان وژل شوي دي .

لمسونځ

بيوم الدين ٥ والذين هم من عذاب ربهم مشفقون ٥ ان عذاب ربهم غيرمأمون ٥ والذين هم لفروجهم حفظون ٥ الا على ازواجهم اوماملكت ايمانهم فانهم غير ملومين ٥ فمن ابتغى وراء ذلك فاولئك هم العادون والذين هم لامنتهم وعهدهم راعون ٥ والذين هم بشهد تهم قائمون والذين هم على صلاتهم يحافظون ٥ اولئك في جنت مكرمون ٥

(المعارج - ۱۹ - ۳۵)

يقيناً چي انسان ډيركم ظرفه اوبې صبره پيداشوى ، چې شر ور ورسيږي ، زګيروى اوشور كوونكى شي او چي خيربې په برخه شي (دخيردكار) سخت مخنوى كوونكى شي ، مګر لمونځ كوونكي هغه چي په خپل لمانځه پابندت كوى او هغه چي په شتمنيوكي ئې دسوال كوونكو اوبې وزلو لپاره څرګنده برخه وى ، اوهغه چي دبدلې ورځ رښتونى ګڼي او هغه چي دخپل رب له عذاب نه ويريږي ، حكه چي ددوى درب له عذاب نه خوندي پاتې كيدل نشته او هغه چي دخپلو شرم ځايونو ساتنه كوى، مګر په خپلو ميرمنو ياوينځو چې پدې صورت كي دوى پړه او ملامت ندي او چاچي له دې نه سربيره څه وغوښتل تيرى كوونكي دي او هغه چي دخپلوامانتونو اوژمنو پاملرنه كوى او هغه چي په خپلو شهادت وركولو په تيغه ودريږي او هغه چې دخپل لمانځه ساتنه كوى ، ددوى به په جنت كې درناوى كيږي .

يك كاروان

يك قطار ازطريق كشور هاي تركمنستان وازبكستان وارد شهرحيرتان درشمال افغانستان شد .

درگزارش آمده است اين كمك ، قرار است بين مردم ولايات باميان ، بلخ ، جوزجان ، سمنگان، بغلان ، كندز ، تخار ، كاپيسا وسرپل تقسيم شود .

قابل ياد آوريست كه درماه حوت گذشته نيز مواد غذايي مشتمل بر دوكاروان (۱۹۰) تني ازسوي ايران ميان مردم شمال افغانستان توزيع شد .

كابل ته (۱٦)

په كابل كي دخوراكي موادو دكميدو انديښني ځكه راپيدا شوي چي پاكستان له افغانستان سره دتورخم په سرحد كي افغاني سوداګرته پريښودل چي له سرحدڅخه وړو اوړي . په ريوټ كي ويل شوي چي دغي اداري دمځه هم داپريل په دوهمه دچارشنبې په ورځ ۳۰۰ ټنه اوترهغه دمخه دمارچ دمياشتي په اته ويشتم ٦۰۵ ټنه خوراكي مواد كابل ته لېږلي دي . مګر په كابل كي دخوراكي موادو داداري محلي آمر امير حيدر پردن په كابل كي وويل چي په كابل كي ددغي اداري ګوداموته دغنمو او اوروڅخه ولك دي اواوس هم له (۷۰۰۰) ټنو زيات غنم پكي پراته دي، مګر هغه وويل چي دپاكستان دغه اقدام چي افغاني سوداګر نه پريږدي چي له پاكستان څخه خوراكي مواد واخلي په بازارباندي ناوړه اغيزه كړيده .

هغه وويل چي په كابل كي خوراكي مواد اوس زيات دي اوخلك يې ا... لمي شي .

عده يې از

نهايي بايكي ازاين شركت ها تصميم اتخاذ نكرده است .

وي افزود كه شركت هاي تجارتي ، يونيكال ، امريكا ، دلتاي ، عربستان سعودي و بريداس ارجنتاين علاقمندي زيادي به اعمال اين پروسه ازخود نشان مي دهند ودوشركت اولي مي خواهند برنامه مشتركي را درافغانستان به پيش ببرند .

خبرگزاري مذكور گزارش مي دهد كه شركت يونيكال اعمال برنامه احداث لوله هاي نفت وگاز را به استقرار صلح وامنيت سرتاسري درافغانستان مرتبط مي داند اما شركت بريداس منتظر تأمين صلح سرتاسري در افغانستان نبوده وبرامنيت نسبي درمناطق تحت كنترول طالبان اكتفا مي نمايد .

د ننګرهار پخوانيو

دطالبانو پرسنګرونو پيل كړل، خوطالبان ادعالري چي دابريد يې په شاتيولي، اودخوګيانيو ولسوالي په مربوطاتو كي يې دهغوى (۲٦) تنه ژوندي نيولي دي .

دغه منبع زياته كړه ، د د لعل پوري د په علاقداري كي هم دحاجي قدير افرادو كوم خاص پرمختګ ندي ترلاسه كړي اوداسي ښكاري چي دغه عمليات بوازي امتحاني عمليات وو او دويري اوترهي خوررولو ديوي هڅې بڼه يې لرله ځكه دحاجي قدير په ګډون دپخواني شورا مهم قومانداتان تراوسه دجګړې ډګرته ندي تللي .

دغه منبع په همدي بڼه وويل : په تيرو دووشپو كي هم دننګرهار دپخواني شورا غړو خپل پرتعداد افراد منظم كړل او دجګړې ډګرته يې ولېږل ، اوداسي ښكاري چي دافرادو دلېږلو دالړې لا دوام لري .

منبع ووېل ، دننګرهار شورا پخوانيو قوماندانانو تيره ورځ دلنډي كوتل په بازار كي يو زيات شمير دوي يې سيم مخابري (واكي ټاكي) هم له دوكانونو څخه واخيستي او داسي ښكاري چي په څو راتلونكو ورځوكي به دطالبانو پرضد دپريكنده عملياتو هڅه وكړي . بل خوا خبري منابع وايي چي طالبان هم لدې وول هلوځلو څخه بې خبره ندي .

اوداسي ښكاري چي له مختلفو ولاياتو څخه خپل افراد راغوندوي اودننګرهار ولايت ته يې رالېږي .

عبدالرحيم

ډيلي كي دناپيلوهيوادو ددفتر په قول وايي چي هند په افغانستان كي دطالبانو حكومت نه پيژني دافغانستان له ديرو څخه دوه برخي ترتسلط لاندي لري پدغه كنفرانس كي دګډون بلنه نه ده وركړې ، ځكه چي دطالبانو حكومت يې په رسميت نه دي پيژندلي .

پاتې دې وي چي څو ورځې مخكي داسلامي هيوادو په غونډه كي چي په پاكستان كي جوړه شوې وه دربانې نسكورشوي حكومت ته بلنه نه وه وركړل شوي مګرطالبانو په هغه كي نمايندګي كړله .

دطالبانو دوومشرانو په

له مشر محترم مولوي محمد يونس خالص سره وكتل .

شريعت غږ راديو تيره شپه وويل : په دې كتنه كي دواړو خواوو دعلاقې وړموضوګانو په اړوند خبري وكړې .

دريوټ په اساس په كتنه كي محترم مولوي محمد يونس خالص په ټول هيواد كي دسولي او امنيت دټينګښت او دمحمدي غرا شريعت دتطبيق په كاركي خپل تياري څرګند كړ .

دبيبل خبر په اساس دطالبانو دعدليې وزارت سرپرست ملانورالدين ترابي هم تيره ورځ له محترم مولوي محمد يونس خالص سره وكتل .

ريوټ زياتوي په دې كتنه كي چي دافغانستان بانك لوى رئيس مولوي احسان الله احسان هم حاضر و دهيواد دروانو مسائلو په باب خبري وشوي .